

# د ښځو سور پوځ

ژباړه: فرهاد ویاړ



په ۱۹۳۰ کال کې په چین کې توره دوره وه. د **هائی نان** په ټاپو کې د **نان باتیان** په نامه یو ظالم زمیندار ژوند کاوه. باتیان د هغه ځای د ارتجاعي پوځ د دفاعي لکښر قوماندان و او د ارتجاعي لاسپوځي حکومت سره یې د جوړجاړي له لارې، پر بزګرانو ظلم او زیاتی کاوه او دهقانان یې لوټل . دې ظلم او ستم د سیمې خلکو لپاره ژوند بی حده ستونزمن کړ.



د نان باتیان په کور کې یوې وینزې ژوند کاوه چې د هغه د ستمونو زغم یې نور نه درلود. له ورځو یوه ورځ ورته موکې برابره شوه چې وتښتي. دا وینزه **جونګ هوا** نومیده چې یوازینۍ هیله او هدف یې له سره پوځ سره یوځای کیدل وو. هغې غوښتل چې له زورواکه زمیندار څخه خپل غچ واخلي.



جونګ هوا د زمیندار له کوره وتښتیده، په ډیرې وارخطایۍ سره یې منډې وهلې. ناڅاپه یې مخې ته یو شتمن سړی راښکاره شو چې پر آس سپور و. جونګ هوا هکه پکه شوه.



جونګ هوا خپله لاره بدله او منډه یې کړه. په دې وخت کې د نان باتیان مزدوران له ځراغونو سره راورسیدل. هغوی، جونګ هوا پسې ګرځیدل.



هغه سړی چې په آس سپور و، سملاسي پوه شو چې څه تیر شوي دي. له ډیره قهره وینه یې په جوش راغلی وه. نوکر یې هم ډیر قهریدلی و؛ په قهرجن غږ یې وویل:«دا د نان باتیان نوکران دي». سړي ورته وویل: «غلئ شه! د نان باتیان کسان کلي ته راغلی دي.»



ځنګه چې هغوې کلي ته رارسيږي، د ارتجاعي پوځ کسان هغوې ته د ودريدلو امر کوي او بيا يې محاصره کوي، نژدې راځي او ورنه پوښتنه کوي: «تاسو له کوم ځايه راغلی ياست؟» هغه سړی چې په آس سپور دی، راکوزيږي او په آرامۍ وايي: «نوم مې **هون چانګ چنګ** دی. زه يو چيني يم چې په بهر کې اوسيږم؛ راغلی يم چې د خپلو نيکه ګانو د زيارت لپاره خيرات وکړم.»



د ارتجاعي پوځ قوماندان چې خوله یې د سرو زرو په غاښونو ډکه وه، د تلاشۍ په پلمه د هون چانګ چنګ بکس خلاص کړ. په بکس کې یې ډیر شمیر بلنلیکونه ولیدل.کله چې یې بلنلیکونه راپورته کړل لاندې یې  د سپینو زور ډیرې سکې ولیدلې او په لیدو یې له خوشالۍ لاس او پښې ورکې کړې.



د نان باتیان مزدورانو، **هون چانګ چنګ** او نوکر یې د نان باتیان زندان ته ویوړل او لاسونه یې ورته له شا وتړل. هغوې هلته هماغه انجلۍ په بند کې ولیده چې په لاره کې ورسره مخامخ شوي وو. د انجلۍ ټول بدن د قمچینې په وهلو زخمي شوی و خو سر یې ټیټ شوی نه و. په جرئت یې ویل:«ووهه، هر څومره چې کولای شو ومی وهه! که بیا مې موکې پیدا کړه بیا هم تبنتم.»



لږ وروسته، هماغه قوماندان چې د سرو زرو غاښونه یې لرل د نان باتیان یو چارواکی راوغوښتو او په موسکا یې ورته وویل:«دا دوه کسان چې دلته راغلي دي، ورسره د سپین زرو ډیرې سکې دي.» د دې خبرې په اوریدو، هون چانګ چنګ په قهر شو، وې ویل:«ته د دې ځای د دفاعي پوځ سرتیری نه، بلکې یو غل یې، قوماندان مو راوغواړئ!!»



د زندان مسوول پوه شو چې هون چانګ چنګ کوم معمولي سړی نه دی، ژر يې منډه کړی چې نان باتيان خبر کړي. کله چې نان باتيان بلنليکونه او د **کواګ تنګ** او **هائی نان** د مخورو شخصيتونو نومونه پر بلنليکونو وليدل، ګمان يې وکړ چې هغه حتمن يو مهم کس دی، نو چيغه يې کړه:«بی ادبه! تا زما له ميلمه سره څنګه بی نزاکتي کړئ!»



نان باتیان په خپله ژر زندان ته راغی او وې ویل:«ښاغلیه! نوکر مې هسې یو شوده دی. زه بخښنه غواړم، راځئ، میلمستون ته تشریف راوړئ.»



نان باتیان غوښتل چې د هون چانګ چنګ له دولت او شهرت څخه استفاده وکړي او پوځي سامان آلات تر لاسه او سور پوځ نابود کړي. د همدې موخې لپاره يې میلمستیا جوړه کړه او یو لوټمار قوماندان يې هم دې میلمستیا ته راوبلو.



په جوړه شوی میلمستیا کې نان باتیان وویل:« وروره! د وطن د ابادولو لپاره کمونیستان باید نابود کړو.» هون چانګ چنګ ځواب ورکړ:«بې له شکه دا زمونږ د ټولو دنده ده چې د خپل ښایسته هیواد ساتنه وکړو، خو دا وخت زه د خپلو نیکه ګانو د هدیرې زیارت ته راغلی یم، هیله مندم چې په راتلونکې کې د دې کار د پلی کولو لپاره سره مشوره وکړو.»



نان باتیان امر وکړ چې نن شپه جونګ هوا خرڅه کړي. د زندان مسوول د یو بل مزدور سره زندان ته راغلل. زندان له اوبو ډک و.



جونګ هوا له خپل ځایه ټوپ کړئ او ژر يې د زندان د مسوول پښه ونيوله او هغه يې په اوبو کې واچو.



زړه وري جونګ هوا بی له دي چي د زندان او له ځنځيرونو څخه کوم ډار ولري، يو ځل بيا کوښښ وکړ چي وتښتي.



خو جونګ هوا بریالی نشوه او بیرته ونیول شوه. د نان باتیان یو مزدور هغه له مټو ونیوله او کلکه یې وتړله او ارباب ته یې راوړه. نان باتیان د خپل میلمه سره خبرې کولی. کله یې چې جونګ هوا ولیده، بی ځنډه یې وویل:« ډیر ژر یې خرڅه کړئ.»



هون چانګ چنګ چې دا ټول شیان لیدلي وو ژر یې فکر وکړ او وی ویل:«مور مې په **کینتن** کې ژوند کوي، غواړي چې یو وینزه وپلوري. دا....» د دې خبرې په اوریدلو سره نان باتیان په خوشالی وویل:«ښه خبره ده. دا خو د دې وینزې لپاره یو ښه چانس دی.»



د سبانۍ ورځ په سهار هغوې د نان باتيان کور پرېښودو، جونګ هوا په حيرانتيا د هغوې سره روانه شوه.



کله چې پولې ته ورسیدل، هون چانګ چنګ له آس راکوز شو او پړې یې خلاص کړ او جونګ هوا ته یې وویل:«ته کولای شې خپل کور ته لاړه شې!» جنګ هوا چې ډاډه شوه چې هغه یو ښه انسان دی، نو وی ویل:«زه کور نلرم، مور او پلار مې نان باتیان وژلي دي. غواړم د کمونیست ګوند خوا ته لاړه شم او د ښځو په سره پوځ کې شامله شم.»




د دې خبرې په اوريدو سره هون چانګ چنګ ډير خوشاله شو او هغه ته يې د **هون شي** کلي لاره وښودله. بيا يې د هغه نوم وپوښتو او د نقرې څلور سکې يې ورکړی او ورته يې وی ويل:«دا درسره واخله او په لاره کې درته د خوړلو لپاره يو څه واخله.»



جونګ هوا ډېره تر اغيزې لاندې راغله، غوښتل يې يو څه ووايي خو هيڅ يې هم ونشو ويلى. لږه ليرې لاړه،
بيا راستانه شوه او هون چانګ چنګ ته د درناوی په توګه سر ټيټ کړ او بيا لکه باد ودروميدله.



هغوې يو ځنګل ته وننوتل او د سره پوځ پهره دار ورته ښه راغلاست وويل. په حقيقت کې دا بهر ميشته چيني په سره پوځ کې د چين د کمونيست ګوند غړی او نوکر يې اصلاً يو خبريال و. هغوې د سره پوځ لپاره د بزګرانو څخه د بسپنې راټولولو لپاره **کينتن** ته تللي وو.



څه چې په لاره کې پيښ شوي وو، هون چانګ چنګ هغه د سيمې قوماندان ته وويل او د نان باتيان څخه د جونګ هوا د ژغورنې لپاره يې بشپړه توضيح ورکړه. له دې خبرو وروسته، قوماندان وويل:«د چينايي ښځو د وسله وال لومړني پوځ د بنسټ ايښودولو لپاره به سبا د **هونشي** کلي کې غونډه وي. ته د ښځو په پوځ کې د ګوند د استازي په توګه ټاکل شوى يې.»



جونګ هوا، په غره کې تږې او وږې د شپې په تیاره کې لاره وهله.ناڅاپه یې په  یو کور سترګې ولګېدلې، ګمان یې وکړ چې هلته شاید د خوړولو لپاره څه پیدا شي.



جونگ هوا سترې ستومانه د کور دروازې ته ورسیده، هلته یې یو موټی موشو (چینی خواږه) له دیواله ځوړند ولیده، یو دانه موشو یې راواخیست او تیز تیز یې وخوړو.



هغې موشو دومره تيز تيز وخوړ چې تندې ونيوله. غوښتل يې چې د باران اوبه اوڅښي چې ناڅاپه يې له شا يو مين آواز واوريده:«خورې، دا اوبه مه څښه! دننه راشه، پاکې اوبه وڅښه.» جونګ هوا سر شاته وګرځو، وې ليدل چې د دروازې په درشل کې يو سړی ودريدلی دی. هغه هک پک شوه.



جونګ هوا دننه لاړه، فکر یې وکړ چې هغه هرومرو یو ځوان دی، لا په شک کې وه چې د کور مالکې ژر خپله خولې لیرې کړه او وې ویل:«مه هیریږه، زه هم ستا په شان یوه ښځه یم، نوم مې **هون لیان** دی.»



جونګ هوا په حیرانۍ ترې پوښتنه وکړه:«ته ولې په ظاهره د سړو په شان ښکارئ؟» هون لیان په غمژن آواز ورته وویل:«د ژوند کولو لپاره راته له دې بله لاره پاتې نه ده، خسر او خواښې مې د زیارت لپاره ښار ته تللي دي، زه د دې موقعې څخه په ګټه اخیستلو غواړم آزاد شوو سیمو ته لاړه شم او د ښځو سره پوځ کې شامله شم.»



جونګ هوا ترې پوښتنه وکړه:«آيا خاوند دې د دې کار لپاره رضايت لري؟» هون ليان، ورته وويل:«لس کاله وشو چې زما خاوند نشته.» د دې خبرو په اوريدو سره جونګ هوا په قهر وويل:«زمونږ لپاره دلته د ژوندانه لپاره هيڅ لاره نشته، دواړه به يوځای سره پوځ ته لاړ شوو.»



په سبا يې، دواړه د سره پوځ په لټه د **هون شي** کلي په خوا روان شول.



دواړه د هون شي په کلي کې هغه ځای ته ورسيدل چې هلته غونډه روانه وه، هغوې چرت ووهو چې څنګه په غونډه کې ګډون وکړي. په همدې وخت کې، د سره پوځ له يو پهره دار سره يې ملاقات وکړ چې د هون ليان ګاونډی و. هون ليان ژر جونګ هوا هغه ته وروپيژندله او وې ويل چې هغه دوه کاله مخکې د يو زورواکه ارباب له کوره تښتيدلی وه.



جونګ هوا د میدان په منځ کې هغه وسله واله ډله ولیده چې د هغوې سره پهره دار، دواړه غونډې ته راوستل.
د یوځای کیدلو لپاره یې سخته وارخطایي لرله.



غونډه پيل شوه، د سيمې قوماندان په اوچت غږ وويل:«سرتيرو! د چانکايشک ارتجاعي ډلې، زمونږ په آزاد شويو مرکزي سيمو باندې بيرحمانه بريدونه پيل کړي دي، د ګوند هيله دا ده چې تاسې ټوپک واخلئ او خونړي مرتجعين د خپلو مرډکيو ښکار کړئ....»



د سیمې قوماندان زیاته کړه:«اوس، زه د سره پوځ او د آزاد شوی سیمې **جونګ یای** کمیټې له خوا، د ښځو لومړني سور پوځ ته پوځي بیرغ ورکوم.»



جونګ هوا د هون لیان سره د ستیج خوا ته لاړه، په دې وخت کې د ښځو سره پوځ د سره پوځ سرې ترانې ویلې او رسم ګذشت یې تر سره کوه. د سره پوځ یوې تنې سرتیرې هغوې ته وویل:«تاسو له مونږ سره نښې تللی، ځکه چې زمونږه ډله د معاینې لپاره ځي.»



له معاينې وروسته د ډلې قوماندانې له جونګ هوا وپوښتل:«تاسو دلته څه کوئ؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:«مونږ غواړو چې د ښځو په پوځ کې شامل شوو.» قوماندانې وويل:«د ډلې د معاينې په وخت کې ما حدس ووهو چې تاسو دواړه ډيرې زړورې ياستې.»



قوماندانې بیا وپوښتل:«تاسو ولې غواړئ زمونږ په پوځ کې شاملې شئ؟» جونګ هوا د خپل کمیس یوه برخه خلاصه کړه او خپل زخمونه یې ښکاره کړل او وې ویل:«د دې لپاره!»



په دې وخت کې د سیمې قوماندان او هون چانګ چنګ راغلل. جونګ هوا هغه ولید او په حیرانتیا یې ورته وویل:«دا څه وینم؟ آیا سمه ده چې تاسو هماغه کس یاست چې پر آس سپور وئ؟» هون چانګ چنګ خپل سر د هو په ډول وخوځو او بیا موسکی شو او قوماندان ته یې وویل:«دا هماغه سرتیری ده چې درته ویلی می وو.» قوماندان وویل:«ډیر ښه! پریږده چې همدلته پاتی شيٍ.»



کله چې جونګ هوا او هون ليان دواړو د لومړي ځل لپاره د سره پوځ جامې واغوستلې، د دواړو لپاره د نيمکرغی شيبې پيل شوی او احساس يې وکړ چې د هغه نه خلاصيدونکی ځواک څښتن دي چې د ژوندانه نيکمرغي يې له همدې ځواک سره تړل شوی ده.



کله چې هغوې د انقلابي پوځي روزنې دوره تیره کړه، یوه ورځ قوماندان دواړو ته وویل چې د **یالین** کلي ته دې لاړې شي او د دښمن د لیږد او حرکت څخه د معلومات راټول کړي.

دواړو جامې بدلې کړې او چمتو شول. د هغوې د تګ په وخت کې قوماندان ټینګار وکړ «چې په هیڅ حالت کې نه ښایي دښمن تاسو ووینئ او باید ډیر زیات احتیاط وکړئ.»



جونګ هوا او هون ليان د يلين کلي ته ورسيدل او د سويل له لورې مخې ته لاړل. هغوی د دښمن نوي جبهې په ښکاره ډول ليدلې.



په دې وخت کې نان باتيان د خپلو نوکرانو سره د هديرې خوا ته د خپلو نيکه ګانو د زيارت لپاره تلو. جونګ هوا کله چې د هغه څيره وليده قهرجنه شوه او ژر يې خپله تمانچه راوويستله. هون ليان ترې وپوښتل:«څه کوې؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:«غواړم خپل انتقام واخلم.»



 څو چې هون لیان غوښتل د هغې مخه ونیسي، جونګ هوا دوه ډزې وکړې.



یو مردکی د نان باتیان په مټ ولګید. د هغې شاوخوا کسان له ویرې او ترهه څخه سخت وډاریدل.



هون لیان متوجه شوه چې دښمن د هغوې پټنځای ولید، د جونګ هوا سره له هغه ځایه وتښتیدله او د پوځ آمریت ته راغلل. قوماندان جونګ هوا ته وویل:«تا ته نه ښایي چې د خپل شخصي غچ لپاره د پوځ نظم ګډوډ کړې. ته یوه سرتیره یې، که غواړې ځانځاني وکړې، نو بله لاره ولټوه!»



جونګ هوا کله چې قوماندان قهرجن ولید او فکر یې وکړ چې شاید نور هلته ځای ونلري، سترګې له اوښکو ډکې شوې او په فکر کې لاړه:«په دې کې زما څه تیروتنه وه، آیا د زمیندار وژل بد وو؟ زه چیرې لاړه شم؟ سور پوځ خو زما کورنۍ او ټول ژوند دی.»



هون چانګ چنګ بی له ځنډه د جونګ هوا د پوهولو لپاره راغی او وې ویل:«سرتیرئ جونګ هوا، ته فکر کوئ یوازې ته دا درد ګالئ؟ نه! د ټولو بیوزلو او کارګرانو په سترګو کې دا درد او غم څپې وهي، آیا ته واقعاً په یوازې ځان جنګیدلی شئ؟ نه! دا مه هیروه چې ته یوه انقلابي سرتیرې یې.»



د هون چانګ  چنګ خبرو پر جنګ هوا ډیره اغیزه وکړه. هون چانګ چنګ غوښتل چې جونګ هوا دا درس تل په یاد ولري، نو ورته یې وویل:«لاړه شه بیا هم د خپلو تیر وتنو په اړه فکر وکړه.» قوماندان کله چې ولیدل چې هون چانګ چنګ په سمه توګه هغه پوه کړه، احساس یې وکړ چې پر جونګ هوا باندې د هغه قهریدل سم کار نه و.



جونګ هوا، هون ليان ته وويل:«خورئ، سرتيری هون چانګ چنګ هم پر مونږ نيوکه کوي او هم مونږ ته جزا راکوي، خو دا ښه چلند دی؛ د همدې لپاره مونږ د هغې خبرې په خپله خوښه منو.» هون ليان وويل:« دا سمه خبره ده، ښايي مونږ له هون چانګ چنګ غوندې سرتيرو څخه زده کړو.»



د بلې ورځ  په سهار، جونګ هوا او هون ليان په کوټه کې  د وزن جګولو تمرين کاوه چې سرتيري هغوې ته ډوډۍ راوړه او وې ويل:«نن شپه مونږ پر نان باتيان بريد کوو.» جونګ هوا په خوشالی وپوښتل:«رښتيا؟»



جونګ هوا بی له دې چې ډوډۍ وخوري، د دې لپاره چې په برید کې ګډون وکړي د قوماندان سره د خبرو لپاره له کوټې ووتله. خو همدا چې د دروازې درشل ته ورسیده، له ځان سره یې فکر وکړ چې آیا ما ته ویل شوي نه دي چې د خپلې تیروتنې په اړه فکر وکړم.



کله چې هغه راستانه  شوه، هون لیان ورته د تسلي تر څنګ وویل:«لاړه شه او خپله غوښتنه وړاندې کړه.» جونګ هوا له لږ فکر وروسته په زړورتیا وویل:«نه! ښایي زه اوس په خپلې تیروتنې فکر وکړم. زه باید نظم رعایت کړم.» هون لیان ورته وویل:«ښه، نو داسې چې ده، زه په خپله قوماندان ته ورځم او ستا په اړه ورته وایم او معذرت غواړم.»



هون چانګ چنګ له نورو سره د جګړې د پلان په هکله خبرې اترې کولې. هون ليان د جونګ هوا غوښتنه وړاندې کړه. هغوې وپوښتل چې ولې په خپله رانغله. هون ليان وويل:«ځکه وې ويل چې هغه په خپله بايد نظم په پام کې ونيسي.» هون چانګ چنګ مسکې شو او وې ويل:«ښه نو، ورته ته ووايه چې امر ته دې منتظره وي.»



د هون ليان له تللو وروسته، هون چانګ چنګ وويل:«د مشترکې مشورې لپاره، نان باتيان هرومرو ما ته منتظر دی. که زه بيا د چينی سوداګر په نامه لاړ شم، هغه نيولی هم شم او دښمن به هم له خپل رئيس څخه لاس په سر شي.»

ټولو ورسره هوکړه وکړه.




هون چانګ چنګ په بهر کې د چیني سوداګر په نامه، د جونګ هوا او هون لیان او یو زیات شمیر سرتیرو سره بیا د یلین کلي ته ورسیده.



نان باتیان په خپله د هغوې هرکلي ته راوتلی و، د نان باتیان په لیدلو سره هون چانګ چنګ له ځان سره وویل:«خوشاله ووسئ، نن شپه به دربانډې بد شانې قیامت تیر شي.»



میلمستون ته د راتګ وروسته، هون چانګ چنګ، هون لیان ته امر وکړ چې ډالۍ وړاندې کړي او وی وویل:«دا زمونږ د هیواد معمولی شیان دي.» نان باتیان کله چې ولیدل چې صحرایي بوټي او د نقرې سکې دي، په ډیرې خوشالۍ یې وویل:«دا ډیرې قیمتي ډالۍ دي.»



د منني لپاره نان باتيان له خپل ځای راولاړ شو او په زګيروي يې پيل وکړ. هون چانګ چنګ قصدي ترې پوښتنه وکړه:«ولې، روغتيايي حالت مو ښه نه دی؟» نان باتيان خپل غاښونه سره ومښل او وې ويل:«دکمونيستانو په ډزو مې زما مټ ټپي شوی دی. د دې مردکې غچ به اخلم!»



نان باتیان زیاته کړه:« هون وروره! د هغه موضوع په هکله چې مو تیر ځلې خبرې کړئ وی...» هون چانګ چنګ بی له ځنډه وویل:«ما تصمیم نیولی چې د **هائی نان** د ساتنې لپاره د زړه له کومې مرسته وکړم.»



نان باتیان د دې خبرې په اوریدو سره له خوشالۍ لاس او پښې ورکې کړی، خو مشاور یې شکمن و او کله چې یوازې شول، نان باتیان ته یې وویل:«د کمونیست ګوند له سیمو څخه په دې اسانۍ د هغه تګ راتګ لږ عجیب غوندې ښکاري. زما په اند د دې مغرور سړي سره کار کول ستونزمن ښکاري.»



نان باتیان د دې خبرې په اوریدو سره په اوچت آواز وخندلې او وې وویل:«که  هغه یو احمق دی نو زه څنګه کولای شم له هغه سره کار وکړم؟  سمه ده، د زیاتې مشورې لپاره **هوانګ چین شان** را وغواړه!» د تللو په وخت کې مشاور ورته وویل:« مالکه! احتیاط له لاسه مه ورکوئ!»



هغه واقعاً د خپل مالك وفاداره مزدور و. د شپې له ډوډۍ وروسته، په پټه د هون چانګ چنګ له کوټې راووتو چې معلومه کړي څه روان دي، خو د هغې دا حرکت هون ليان او جونګ هوا وليدو.



جونګ هوا چې د دې جاسوس حرکتونه لیدلي وو، په اړه یې هون چانګ چنګ ته وویل. هون چانګ چنګ چې په خپله هم شکمن شوی و، په قصدي ډول یې په اوچت اواز وویل:«چترۍ نیونکی، زه د رئیس نان باتیان سره یو څه مشوره لرم نو د همدې لپاره یو څو ورځې نور هم دلته پاتې کیږم، سبا ته کینتن ته لاړ شه او مور مې دلته د چکر وهلو لپاره راوله.»



توره تياره شپه وه او شاوخوا چوپه چوپتيا وه. هون چانګ چنګ خپل ساعت ته وکتلې. د بريد لپاره ټاکل شوی وخت نژدی و، نو ژر يې چترۍ نيونکي ته وويل د شا دروازه خلاصه کړه.



چترۍ نیونکي ورو د شا دروازه خلاصه کړه او د ښځو د سره پوځ کلیوالې انجوني یې د کوټې دننه ته راوغوښتلې.



جونګ هوا او هون ليان، ورو د نان باتيان د خوب کوټې ته وننوتلې.



نان باتیان يې په داسې حال کې چې بیده وو، ونیو. هون چانګ چنګ هغه ته په سپکه وکتل او بیا يې سرتیرو ته امر وکړ چې دری ځایونه وسوځي، څو د پوځ نورې میرمنې، چې د برید په تمه وې، خبرې شي.



په همدې شيبه کې د ميرمنو سور پوځ د قوماندان سره په پټه راوننوتل. هغه کس چې د سرو زرو غابښ يې لرو، غوښتل چې مقاومت وکړي خو د قوماندان د ډزې نښه وګرځيد او په ځمکه ولېد.



کله چې سور پوځ د یلین کلي ته راورسید، په ټول کلي کې اور لمبې وهلې. د ارتجاعي پوځ سرتیري یا مړه شول او یا یې هم وسله په ځمکه کیښوده، د سره پوځ سرتیرو دا جګړه بریا ته ورسوله او د یلین کلی ازاد شو.



د هماغې ورځ په سبا جونګ هوا، زورواکی نان باتیان راکاږلی راکاږلی واټ ته راوړ او د بزګرانو مخې ته یې خپل غم داسې فریاد کړ:«زه د دې وینځه وم، د پلار پښه مې په خطایی سره د دې له سپي سره ولګیده، یوازې د همدې لپاره او په همدې پلمه یې زما پلار ووژو...»



ټولو په يوه خوله وويل:« دې خونړي دښمن، نان باتيان، کلونه کلونه پر بزګرانو ظلم او ستم کړی، اوس د يلين په کلي کې د غچ اور لمبې وهي. دا زهرجن مار ووژنئ!»



د خلکو د پریکړې لپاره یې نان باتیان یې په لنډمهاله ډول په کوټه کې وتړو، کله چې یې ولیدل چې د هغه ساتنه یوازې یوه انجلۍ کوي، د تیښتې فکر یې سر راته راغئ، په مکر یې وویل:«غواړم تشناب ته لاړ شم.»



بلې کوټې ته وننوت، ژر يې د ځمکې تيږي ليرې کړی او د تکهاوۍ له لارې وتښتيد.



په همدې وخت کې جونګ هوا او قوماندان راغلل چې نان باتیان ونیسي، سرتیري وویل: هغه دننه کوټه کې تشناب ته تللی. جونګ هوا کله چې دننه لاړه، وی لیدل چې د تهکاوۍ لاره خلاصه ده او نان باتیان په کوټه کې نشته.



جونګ هوا فوراً په تهکاوۍ کې دوه ډزې وکړئ. بیا یې تهکاوۍ ته ودانګلی او د نان باتیان په لټه  کې شوه.



نان باتیان د تهکاوۍ له لارې بهر ته ووت او د غره لورې ته وتښتید، د **هوانګ چین شان** د غلو او مزدورانو دوه تنه سر ډلي چې کلي ته راغلي وو، په نان باتیان یې سترګې ولګیدلی چې په بد حالت کې و.



هغوې دواړه د نان باتیان خوا ته راورسیدل، له ویرې یې ساه ګانې بندې شوی وی، هوانګ چین شان چې ولیدل چې سرتیري د هغوې په لټه کې دي، ژر یې څو ډزې وکړئ، بیا یې مزدور، نان باتیان په غیږه کې ونیو او غر ته یې بوتو.



جونګ هوا دومره د دښمن د دستګیرۍ په فکر کې ډوبه شوی وه چې اډو یې احساس ونکړه چې ټپي شوی ده.



قوماندانه کله چې له شا نه راغله، جونګ هوا يې وليده چې ټپي شوی او پر ځمکه ولېدلی، هغه يې جګه کړه او په ښنګل کې يې ونيوله.



جونګ هوا یې روغتون ته ورسوله، د سره پوځ ډاکټر هغه عملیات کړه. له عملیات وروسته، هون چانګ چنګ یې پوښتنې لپاره روغتون ته راغی او ترې یې وپوښتل:«حال او احوال دې څنګه دی؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:«درد لرم، خو د زمیندار له قمچینې ښه دی.»



ځو ورځې وروسته چې د جونګ هوا حال ښه شو، هون چانګ چنګ په خوشالۍ سره راغی او په هیواد کې د انقلابي وضعیت د بیا پراختیا څخه وغږېد. د دې خبرو په اوریدو جونګ هوا خوشاله شوه، خو دومره ډېره نه، په فکر کې ډوبه شوه:«کاش ژر ښه شم او په دې مبارزه کې ګډون وکړم!»



د ځو ورځو په تیریدو سره جونګ هوا روغه شوه. په دې موده کې هغه ډیر کتابونه ولوستل او د انقلاب په هکله یې داسې ډیرې خبرې یادې کړې چې مخکې وربانډې نه پوهیده.



جونګ هوا له روغتون څخه رخصتیدله چې په لاره کې هونچانګ چنګ ولیده. هغه بیا غوښتنه و کړه چې په خپله ښار ته ولاړه شي او د نان باتیان سر له تن څخه جلا کړي. هونچانګ چنګ له ډیر فکر وروسته وویل:«که را دې نه وړ، نو بیا؟» جونګ هوا ځواب ورکړ:« نو بیا زما سر د قربانۍ لپاره چمتو دی.»



هون چانګ چنګ د دې خبرې په اوریدو سره فکر وکړ چې ځنګه هغه پوه کړي. بالاخره هغه ځنګه پوه کړي چې د مبارزې لپاره باید د ولس په ځواک ډډه ووهو. له ډیر فکر وروسته هغوې د یلین کلي ته وننوتل او د نان باتیان کور ته چې اوس د ولس د سیاسي ځواک اداره وه، ورسیدل.



هون چانګ چنګ دفتر ته له ننوتل وروسته په قصدي ډول وپوښتل:« ویلی شئ چې په نقشه کې د هائی نان ټاپو چیرې ده؟» جونګ هوا ډیر کوښښ وکړ خو بریالی نشوه. هون چانګ چنګ هغه ته د هائی نان ټاپو وښوده. جونګ هوا اوږده ساه وویستله او وی وویل:«څومره کوچنی ده!»



هون چانګ چنګ وویل:«په نقشه کې زمونږ د سیمې کوچنی برخه هم نه لیدل کیږي، زمونږ هیواد څومره لوي دی! ته فکر وکړه چې د یو تن په میړانی سره د دې لوي هیواد ژغورنه شوني ده؟»

جونګ هوا د دې خبرې په مانا پوه شوه او په مسکا یې وویل:«تاسو د نورو په پوهولو کې ستر ځواک لرئ.»



جونګ هوا فکر وکړ چې هون چانګ چنګ يو دانشمند دی او وې پوښتل:«تاسو څومره زده کړی کړي دي؟» هونچانګ چنګ وویل:«په ماشومتوب کې مې د پلار د لاس سپکولو لپاره کار کوو. د کینتن د اتحادیې په مرسته مې ښوونځی ولوست، بیا مرتجعینو اتحادیه وتړله او پلار یې راته د **چو** سیند کې ډوب کړ...»



له هغه ځایه چې د هائی نان ټاپو په ژبه پوهیدلم، دې راسره له کینتن څخه په تیښته کې مرسته وکړه. سرتیری جونګ هوا! د خپل غچ اخیستلو او د تیرې خونړۍ ټولنې د ړنګولو لپاره مونږ باید پر ولس او خپلې طبقې ایمان ولرو!» د هون چانګ چنګ هر خبره د جونګ هوا په ماغزو کې ځای نیو.



د کمونیست ګوند د تدریس او لارښوونې له امله د جونګ هوا او ملګرې هون لیان طبقاتي شعور ډېر ژر لوړ شو. هغوې دواړو غوښتل د کمونیست ګوند غړي شي. هغوې په خپل غوښتنلیک کې داسې ولیکل:« زه به د زیارکښو طبقاتو د ژغورنې او د کمونیزم پلی کیدو لپاره، خپل ټول شیان فدا کړم.»



یو کال وروسته، د چانکایشک ارتجاعي مرکزي پوځ یوه ډله ساتونکي هائی نان ته ورسیدل چې د سره پوځ آزاد شوی کلی **چونګ یا** نابود کړي. نان باتیان چې پټ شوی و او د همدې ورځې انتظار یې ویست، کله یې چې واوریدل چې د چانکایشک پوځ راځي، د هرکلي لپاره یې د نورو زورواکو زمیندارانو سره ژر ساحل ته ورسید.



په بلنه کې، نان باتیان د ډلې قوماندان ته د جوړجاړي وړاندیز وکړ، زمونږ پوځ باید د هائی نان دښمنانانو باندې یوځلی او ناڅاپی برید وکړي، که دښمن زمونږ د مرکزي پوځ له کارونو خبر هم شي، بیا هم د دې سیمې خلك او د هغوې شتمنۍ له دې ځای ایستلی نشي.



د ارتجاعي پوځ قوماندان سر وخوځو او وی ویل:«زما پوځ له چنانګ څخه هائی نان ته لیږدول شوی او زه کلک هوډ لرم چې د چونګ یا کمونیست ګوند نابود شي. د نان صاحب دا وړاندیز باید تر ارزونې لاندې ونیول شي چې له کینې او ښي دواړو خواو پر دښمن جلا بریدونه وکړو. نن شپه به په دې اړه د پلي پوځ سرګروپ ته امر ورکړم.»



کله چې د دښمنانو د برید اطلاع هون چانګ چنګ او د ډلې قوماندان ته ورسیده، ژر یې ساتونکو، سور پوځ، دولتي مامورینو او د هغوی کورنیو ته هدایت ورکړ چې له هغه ځایه شاته شي. په همدې وخت کې پر آس سپور چترۍ نیونکی راغی او د سیمې د قوماندان حکم یې هون چانګ چنګ ته ورکړ.



د لیك له لوستل وروسته هون چانګ چنګ وویل:«قوماندانه! اول، ته د نورو ګروپونو سرتيري درسره واخله او د ځانګړې پوځي ډلې سره د دښمنانو شا ته لاړ شه. د دریم ګروپ سرتيري او د ډلې کارکوونکي به د دښمنانو د راتګ د مخنیوي لپاره ما سره پولي ته لاړ شي.»



هون ليان د ټيپانو په پاملرنې بوخته وه چې جونګ هوا په منډه د هغې خوا ته راغله او وې ويل: «هون ليان خورې له دې ځايه ليرى شئ!»



ټول ټپيان يې له کلي نه د ځان سره بيوتلل، هون د ښځو د سره پوځ له آخري ډلې سره پولي ته ورسيد.



د لمر په راختلو سره د چانکایشک ارتجاعي پوځ د یلین کلی کلابند کړ او د خپلو پوځیانو د ساتنې لپاره یې د ډزو باران پیل کړ. د ښځو پوځ دریم ګروپ چې د ساتنې او د دښمن د لارې بندولو لپاره غره کې راټول شوی و، دښمنانو ته یې څو ځله غاښ ماتونکی ماته ورکړه.



نان باتيان كله چې وليدل چې د چانكايشك پوځ څو ځلې شاتګ وكړ، نو هوانګ چين شان ته يې وويل:«ته دې خپلې ډلې سره بريد وكړه!» د هغې له حركت مخكې نان باتيان د هغوې په روغتيا درى جامه شراب وڅښل.



هوانګ چین د خپلو لوټمارانو سره پر سره پوځ د برید لپاره د غره خوا ته روان شو.



کله چې د سرتیرو د ډزو باران پای ته ورسید، هون چانګ چنګ، جونګ هوا ته وویل اوس زمونږ کار خلاصیږي، ته د لومړي او دویمی ډلو سرتیرو او ټیپانو سره ژر له دې ځایه لاړه شه، زه او دریمه ډله به ستاسو د خوندیتوب لپاره وجنګیږو. خو د جونګ هوا هیله دا وه چې په مورچل کې پاتې شي.



هون چانګ چنګ وویل:«سرتیری جونګ هوا، ګوند ته، ستا او د هون لیان د شمولیت اجازه راغلئ، اوس ته د پرولتاریا د لومړي کتار یوه سرتیری یې. که مونږ له دې ځایه په شاتګ بریالي نشوو نو ته او د ګوند ټول غړي یو پیاوړي او مبارزه لیکه جوړولی شئ چې د جنګیدلو د مسوولیت په اخیستلو سره به تر بریا پورې وجنګیږئ.»



جونګ هوا په چرت او فکر کې وه چې لاړه شي که نه، هون چانګ چنګ هغې ته وويل:«ته بايد د کمونيست ګوند د غړي په توګه د خپلو لومړنيو دندو د منلو لپاره لاړه شئ.» جونګ هوا د خپلو احساساتو په څرګندولو سره د نقرې څلور سکې چې هغه ورکړې وې ښکاره کړې او وې ويل:«سرتيرى هون! دا هم په ګوند کې له شموليت وروسته زما لومړنى حق العضويت.»



کله چې جونګ هوا د خپلې ډلې سره لاړه، هون چانګ چنګ په ځیرتیا سره وکتل چې د هوانګ چین شان مزدوران د تورو سره د هغې خوا ته راروان دي. هغه ژر په خپل ماشیندار نښه ونیوله او مرتجع سر ډلې، هوانګ یې ووژو.



هونګ چین شان مورچل ته نارسیدلی ووژل شو، خو هون چانګ چنګ هم ډیر سخت ټپي شو.



جونګ هوا او ډله يې نوی د غره شا ته رسيدلي وو چې ناڅاپي يو سرتيری په منډو منډو راغی او وې ويل چې تر اوسه له مورچل څخه کوم خبر نه دی رارسيدلی. جونګ هوا د دې خبرې په اوريدو سره په بيړه خپلې ډلې ته وويل:« تاسو مو وسلې چمتو کړئ او مرمۍ راټولې کړئ! زه د حالاتو د پوهيدلو لپاره ځم.»



نان باتیان، تور تورتم زیارت ته ونوت او قوماندان **بتالین خو** ته یې شکایت وکړ:«ښاغلی قوماندانه! د یوی کوچني پوځ د جګړې له امله زمونږ یوه کامله ډله له منځه لاړه.» بتالین خو په قهریدلی ډول وویل:«راته ووایه چې د کمونیست ګوند ځانګړی ډله چیرې ده؟ د دې ښځو د منګولو څخه د ژغورنې لپاره ما بل ځای ته بوځئ.»



په همدې وخت کې یو ارتجاعي سرتیري بتالین خو ته د حکم یوه پاڼه ورکړه. د حکم په لوستلو سره خو وویل:«زمونږ پوځ د کمونیست ګوند پوځ لخوا نابود شوی. سبا سهار مونږ د ډلې نژدې پنډغالي ته درومو او له دې دوزخ څخه راووځو.»



قوماندان بتالین خو قهرجن بهر ته ووتو، یومزدور دننه راغی او نان باتیان ته یې وویل: اربابه هغه بیرته په هوښ راغلی. اصلي خبره دا وه چې هون چانګ چنګ ټپي او بې هوښه په مورچل کې ولیدلی و، دښمن هغه نیولی و. د دښمن د ټولو شکنجو او ځورونو سره سره، هون چانګ چنګ تسلیم شوی نه و.



نان باتیان د هون چانګ چنګ مخې  ته یوه پاڼه کېښوده او وې ویل:«ښاغلی هون که تاسو د ښځو سور پوځ ته دستور ورکړئ چې خپلې وسلې پر ځمکه کېږدي، تاسو به خوشې شئ او بیرته به په عیش او عشرت کې ژوند وکړئ.» هون چانګ چنګ خپله سینه سیده کړه او نان باتیان ته یې وکتلی.



له دې وروسته يې زهرجنه مسکا وکړه او قلم يې واخيست او د خپل اعتراف ليک په لاسوند کې وکاږل:
«که په دې رښتني لاره کې که مې سر هم له تنه جلا کړئ، زه د دې پاک هدف په لاره کې چې په خپله مې غوره کړه له مرګ څخه نه ډارېږم، زړګونو انقلابيونو دا لاره منلې ده که ته مې بدن له خاورې سره خاورې هم کړې، بيا هم نه په شا کيږم.»



نان باتیان د دې اعتراف لیک په لوستلو سره له قهره زیږ او سور شو او د لیوني سپي په شان په انګولاوی یې وویل:«ښه نو ستا صداقت اوس له مرګه هم خبرې کوي! بهر څوک شته؟ راشئ او دا سړی وباسئ!»



هون چانګ چنګ یې یوې ونې ته وتړو. شا ته یې، دښمنانانو په تیلو ککړ مالوچ کیښودل. هون چانګ چنګ خپل هیواد ته کتلی او مرتجعینو ته یې په اوچت آواز چیغه کړه:«مړ دی وې مرتجع ګومیندان! ژوندی دې وي د چین کمونیست ګوند!»



له یوې خوا لمبې جګې وی او له بلې خوا هون چانګ چنګ مرګ په میړانه ومنو. دا ټول جونګ هوا له غره څخه لیدل خو د ماتې ورکونکی او بریالي جګړې لپاره، هغه نه غوښتل خپل ځان او خپله ډله دښمن ته افشا کړي. خپل ملګرې یې په خپلو سترګو د دښمنانانو په منګولو کې ولید او وی نشو ژغورلی. غم یې تل په زړه کې پاتې شو.



جونګ هوا په اوښکنو سترګو بیرته راستانه شوه.



په لاره کې يې د هون چانګ چنګ کوچنی بکس پیدا کړ. په دغه بکس کې د دې او هون لیان غوښتنلیک او د نقرې څلور سکې هم وی. د هغو په لیدلو سره يې په پیاوړتیا قسم وخوړ تر هغه چې ژوندې ده د کمونیست ګوند صادقه غړی ووسي، د هون چانګ چنګ آرمان به پوره کړي او ټول به متحد کړي او تر بریا پورې به وجنګیږي!



جونګ هوا بيرته خپل ګروپ  ته راغله او له سترګو يې سرتيري پوه شول چې کومه بده پيښه شوی ده. جونګ هوا په استقامت نورو ته وويل:«په مورچل کې زمونږ ټول چريکان په ميړانې سره قرباني شول او سرتيری هون په ستر وياړ سره خپل ځان فدا کړ.»



د دې خبرې په اوريدو سره د ټولو وينه په جوش راغله. جونګ هوا وويل:«سرتيرو! د کمونيست ګوند سازمان موجود دی، مونږ بايد د شهيدانو کار په غاړه واخلو او تر بريا پورې وجنګيږو.»



په هماغه ورځ، چترۍ لرونکی د سیمې د قوماندان د حکم سره راغی او وې ویل:«زمونږ پوځي ډلې دښمنانانو ته ماته ورکړې او له ستاسو پوځي ډلې غواړي چې هلته ورسیږي او د نان باتیان مخنیوی وکړي چې ونه تښتي. د ماښام تر شپږو بجو پورې باید کوښښ وکړئ چې په مورچلونو کې ووسئ.»



يو سرتيري د دښمنانو ليږد او حرکت معلوم کړ او جونګ هوا ته يې وويل:«نان باتيان غواړي وتښتي، هغه ډېر شمير بزګران نيولي او د هغوې د ډله ايزې وژلې لپاره چمتوالی نيسي.» د دې په اوريدلو سره، جونګ هوا د نان باتيان د مخنيوي لپاره ژر د کمونيست ګوند ناسته جوړه او ټولو د هغه موخې تاييد او ومنلی.



د سبانۍ ورځ غرمه وه چې جونګ هوا د پوځ د یوې ډلې سره د بزګرو میرمنو په بڼه د یلین کلي ته ورسیده.



د نان باتیان کسان د هغه د کور د شیانو په لیږدونی بوخت وو او د میلمستون هغه شیان چې نه لیږدل کیدل، په خپله یې لکه لیوني سپي خرابول.



یو مزدور په بیړه راغلی او نان باتیان ته یې وویل:«اربابه! مونږ له ټولو کلیو بیوزله خلک نیولي. تاسو غواړئ هغوې ووینئ؟»



نان باتيان يو لوړ ځاى ته جګ شو او په اوچت اواز يې وويل:«اى بيوزله خلکو! نن به په تاسو باندې بد قيامت جوړ کړم. ځکه داسې نه چې زما په تللو سره تاسو زما نيکه ګان هم له قبرونو راوباسئ. خو، که ستاسو منځ کې هر چا په اوچت اواز وويل چې مړ دې وي کمونيست ګوند، هغه به وبخښم.»



بزګرانو په کرکه نان باتیان ته کتل.د هیڅ چا هم غږ پورته نشو. لږ ځنډ وروسته هغه وپوښتل:«ولې ګونګه شوي یاست؟ هیڅ څوک نشته چې څه ووايي؟» یوه بوډا ژر خپل لاس پورته کړ او غږ یې کړ:«دا ظالم زمیندار ووژنئ!»



د دې خبرې په اوریدو سره نان باتیان له قهره سور شو او خپلو مزدورانو ته یې امر وکړ چې دا بوډا ووژنئ. په همدې وخت کې جونګ هوا د خپلو سرتیرو سره هلته ورسیده او د دښمن د بی پروایی او بی فکرۍ نه په ګټې اخیستلو سره یې د نان باتیان کلا محاصره کړه.




د ښځو پوځ سرتيري راورسيدې او نان باتيان يې ونيو، د دفاعي ارتجاعي پوځ مزدورانو په ويره خپلې وسلې پر ځمکه واچولې.



نان باتیان یې د هغه میلمستون ته ویوړ، جونګ هوا په قهر ورته وویل:«دا وواېه چې سور پوځ ارتجاعي پوځ ته ماته ورکړی او دلته بریالی شوي دي. اوس ته دې ژر وسلې پر ځمکه کېږده!»

نان باتیان چې زړه یې دروپ دروپ کاوه، ځان سیده کړ او ویې ویل:«ماته د ځان وژنی اجازه راکړه!»



جونګ هوا خپله پیشقوزه راوویسته او پر میز یې واچوله او وی ویل:«واخله!» نان باتیان وغوښتل چې په خپلو رپیدونکو لاسونو پیشقوزه ونیسي، خو بیرته یې خپل لاس شاته کړ. جونګ هوا په ملنډو وویل: «زه تا ښه پیژنم، زړه دې لکه ګیدړی او همت دې لکه سوی دی.»



نان باتیان په ننواتي وویل:«نه ښايي چې زمونږ تر منځ کومه کرکه وي، ته ما خوشی کړه، او زما ټوله شتمنۍ واخله، زه مې له خپلې ډلې سره ځم او بیا هیڅکله نه راستانیږم. جونګ هوا ورته وویل:«بس دی! نور نوخوب مه وینه! که بیا دې وخت پیدا کړ، بیا هم راځئ.»



په همدې وخت کې له بهر څخه د ښادۍ غږونه واورېدل شول، جونګ هوا خپل سر راوګرځو او وی لیدل چې د سره پوځ ځانګړی ډله راغلی ده. نان باتیان خپل غاښونو سره ومښل او د وخت په کارونۍ سره یې هڅه وکړه چې پیشقوزه واخلي.



مخکې له دې چې پیشقوزه راواخلي، جونګ هوا په هغه دوه ډزې وکړې او په ځمکه ولید.



د سره پوځ میرمنو د ځانګړی پوځي ډلې سره ولیدل، د خوشالۍ په دې موکه کې جونګ هوا له قوماندان سره د جګړې په اړه لنډې خبرې وکړی. قوماندان او سرتیرو د جونګ هوا د جګړه ایزه دندو تر سره کول وستایل.



د ښځو سور پوځ د جګړې له ستونزمن ازمايښت څخه تير او ستره وياړنه يې تر لاسه کړه. د جګړې له پای ته رسيدو سره، د ښځو بل پوځ جوړ شو. کمونيست ګوند پريکړه وکړه چې جونګ هوا په دې پوځ کې د ګوند استازی وي.



جونګ هوا په احساساتو سره سرتيرو ته وويل:«تاسو ټول ۱۲۰ تنه زړوری سرتيرې ياستی... ښايي مونږ د ښځو د لومړني ستر پوځ له مخينې او له ټولو هغو شهيدانو زده کړو چې ځانونه يې قربانی کړي دي. مونږ بايد د نان باتيان په شان ظالمه زميندارانو تري تم او نابود کړو.»



د انقلاب څپه څپانده شوی وه، د مرتجع ګومیندان د ړنګولو او د پرولتاریا د بشپړ خلاصون لپاره؛ لمر راښتلی او د ښځو پوځ بیا هم مخ په وړاندې لاړ.

## «سیند» خپاره کړي دي:

۱.د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه:فرهاد ویاړ

۲.دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قرباني، ژباړه: مرینه سحر

۳. د یوه شاعر اندیښني، احمد شاملو، ژباړه: فرهاد ویاړ

۴.یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام ـ سپیڅلی

۵.مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه: فرهاد ویاړ

۶.مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا.لنین، ژباړه: هاشم سهار

۷. لیوهولان ـ یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه: فرهاد ویاړ

۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه: څرک

۹.ارنستو چه ګوارا، م.بنامین، ژباړه:فرهاد ویاړ

۱۰.اولدوز او کارغان، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۱.کوراوغلو او ګنجی حمزه، صمد بهرنګي، ژباړه: ف.رووفي

۱۲. د دیالکتیک ماتریالیزم او تاریخي ماتریالیزم په اړه، ی. و. ستالین، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۳- زما ګیتار! ویکتور خارا، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۴ ـ مخکښ شهید، لوچیاپن، ژباړه: فرهاد ویاړ

۱۵- ډیر ترویج، ډیر تبلیغ.، ای . میشتر، ژباړه: ولي

۱۶ –د ویتنام حماسه، د امریکې رسوایي، م. بنیامین، ژباړه: سرمد

۱۷- ولادیمیر ایلیچ لنین، نادژدا کروپسکایا، ژباړه: ولي

۱۸ ـ آواز (جوئن بایز ـ تیکن جا فاکلی ـ باب مارلی)، فرهاد ویاړ

۱۹ ـ د لیبرالیزم ضد مبارزه، مائوتسه دون، ژباړه: سرمد

۲۰ –له سترې هیوادنی جګړې څخه ځینې داستانونه، د بوریس پاله وی او د نورو لیکوالو د څو داستانونو لنډیز، ژباړه: فرهاد ویاړ

## خپریږي:

## د تضاد په اړه – مائوتسه دون، ژباړه: ولي

میتد
چرندویه

۱۳۹۵